په اسلام کي

# زنيري

حکم

تألیف:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ

ژبارن:

قاري شبیر احمد

www.Taleemulislam-Radio.com

حسن کتب خانه او قرطاسیه

ارگ بازار کندهار افغانستان

0700374524

# په اسلام کي د

# زيري حكم

Download from:aghalibrary.cm

تأليف: حکيم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي (رح)
ژباړن: قاري شبير احمد

حسن کتب خانه او قرطاسيه
ارگ بازار کندهار افغانستان
0700374524

بسم الله الرحمن الرحيم

ددې کتاب ټول حقوق دخپرونکي سره محفوظ دي

## دکتاب پيژندنه

دکتاب نوم :.................... په اسلام کي دښځي حکم

تألیف :... حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوي

ژباړن :............................قاري شبیر احمد

تصحیح کونکي :................ مولوي عبدالهادي حماد

کمپوز:......... دحسن کتب خاني دکمپیوټر اداره کندهار

خپرونکي :...................... حسن کتب خانه او قرطاسیه

دچاپ شمیر :................................ ۱۰۰۰

دخپروني لړ:.................................. ۱

(که چیري په یوځاي کي کومه غلطي وي دمهرباني له مخي مونږ ته خبر راکړي ترڅو په راتلونکي کي مومخ نیولي وي.) په درښت

اداره

www.Taleemulislam-Radio.com

# فهرست


| پانه | سرليکونه | شميره |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | ۱- |
| ۲ | دږيري خريل گناه کبيره ده او........ | ۲- |
| ۳ | دږيري په اړه نبوي حديثونه | ۳- |
| ۶ | دږيري په اړه يوڅو مسئلي | ۴- |
| ۱۱ | دږيري خريل يوه بې خونده گناه ..... | ۵- |
| ۱۲ | دږيري پريښول يوه علامه د اسلام...... | ۶- |
| ۱۵ | بهانې | ۷- |
| ۱۸ | ږيره پريښول اتباع د سنت ده | ۸- |
| ۱۹ | دږيري په نه پريښولو کي جسمي ..... | ۹- |
| ۲۶ | په قرآن کريم کي دږيري حکم | ۱۰- |

بسم الله الرحمن الرحيم

دهغه څښتن په نوم چي انساني جوړښت اوښه يې دمخلوقاتوپه وړاندي داسي ښکاره کړي ده چي ښکلااوځلايې دلمرپه څيرڅرگند ه ده.

درنولوستونکو! کومه رساله چي ستاسوپه لاس کي ده دادهنددنيمي وچي دسترعالم تهانوي (رح) تأليف دي اويوتنکي اومذهب پاله ځوان شبيراحمدصاحب ژباړه ده څرگنده ده چي دتهانوي (رح) تأليف وټولودنياوالوته قابل قبول دي نوزه بايددومره ووايم چي دغه ژباړه ډيرپه زړه پوري اوپه اوسني ټولنه کي سخته ورته اړتياده الله ﷻ دي مؤلف اوژباړن دخپل رحمت په لورونه ونازوي.

آمين

په درنښت

افقرالورى مولوى عبدالهادي حماد

مدرس وناظم جامعة اسلامية اشرفية

**دږیرې خرېل ګناه کبیره ده او په هغه پسخندوهل کفردی**

څکه الهي فرمان دي:

﴿ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا ﴿١١٨﴾ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ ءَاذَانَ ٱلْأَنْعَٰمِ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَتَّخِذِ ٱلشَّيْطَٰنَ وَلِيًّا مِّن دُونِ ٱللَّهِ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُّبِينًا ﴿١١٩﴾ ﴾

ژباړه: شیطان وویل: بېله شکه ستادبندګانوڅخه زه یوه حصه خپلوم هغوی ګمراهان کوم هغوی په خپلوامیدونو کې غرق کوم اوهغوی ته امرکوم کوم صورت چې خدای ورکړئ دي هغه ته تغیورکړي دحیواناتوغوږونه دخپلومعبودان په نامه پرې کړي هرچاچې خدای هېرکړي

اوشيطان يې خپل دوست ونيوئ بېله شکه په تاوان کي ولويدئ.

تشريح: د﴿ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ ٱللَّهِ ﴾ په مصداق کي ږيره خريل هم داخله ده[1].

(يعني دالله ﷻ جوړښت ته تغيوركول دهرشي چي وي دشيطان دامرمنونکي دلي څخه جوړيږي.)

## د ږيري په اړه نبوي حديثونه

نبي کريم ﷺ فرمايلی دي: (خالفواالمشرکين قصوا الشوارب واعفوااللحی).

ژباړه: دمشرکينو سره مخالفت وکړئ ږيري پريږدئ او بريتونه کوچني کړي.

حضور ﷺ په دغه دواړومسئلوکي دامرصيغي راوړي دي اوامرپه معنی دوجوب دي،نو دواړه حکمونه واجب دي

[1]- مسائل السلوک.

او پرېښول دواجب حرام دي ددې وجهي دږيري خريل يادبريتونونه کوچني کول حرام دي.

۲) عن عائشة رضي الله تعالي عنهاقالت : قال رسول الله ﷺعشرمن الفطرة:قص الشارب،واعفآءاللحية،والسواک ،والاستنشاق باالماء،وقص الاظفار، ونتف الابط،وحلق العانة ،وانتقاص الماء(يعني الاستنجاء)[۱].

ژباړه : دحضرت عائشي رضي الله تعالی عنها څخه روايت دئ چي رسول کريم ﷺ فرمايلی دي: لس خويونه دخويوڅخه دفطرت دي : بريتونه کوچني کول ،ږيره پرېښول ،مسواک وهل،دپزي پرېولل،دبغل وريښتان ليري کول،نوکان کوچني کول،سنتي کول،دخولی پرېولل او استنجاء.

په اسلامي شريعت کي فطرت وه هغه کارته ويل کيږي چي دټولوانبياءکرامو سنت اوطريقه وي اوموږ دهغه په کولوسره امر کړل سوي يو.

---

[۱]- مسلم ،ابوداؤد ،ابن ماجه.

لکه څنګه چې امام نووی رحمة الله علیه دمسلم په شرح کې فرمایلی دي:چې دغه ږیره پرېښول دانبیاءکرامو دسنتوڅخه ده[1].

دهارون علیه السلام په اړه په قرآن کې راغلي دي:

﴿ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِيٓ ۝٩٤ ﴾

ژباړه :اې وروره! ماترږیري اوسرمه نیسه.

۳) عن ابن عمر رضي الله عنه قال :قال رسول الله ﷺ خالفواالمشركين اوفرواااللحى واحفواالشوارب[2].

ژباړه :دمشرکینوسره مخالفت وکړي ږیري پوره کړي اوبرېتونه کوچني کړي.

په یوروایت کې دصحیح مسلم دابوهریرة رضي الله عنه څخه راغلي دي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل : جزواالشوارب اوفروا اللحى خالفواالمجوس.

ژباړه:برېتونه کوچني اوږیري پوره کړي اومجوسیانو

---

[1]- اصلاح الرسوم.

[2]- مسلم وبخاري.

سره مخالفت وکړي.
حضرت شيخ الاسلام مولاناحسين احمدمدني(رح)
فرمايي: دغه ډول حديثونه په ډېروکتابوکي سته چي
پردې دلالت کوی چي مجوسيانواومشرکينوپه هغه
زمانه کي ږيري خريلي اوبرېتونه به يې غټول څه رقم چي
يې په ننۍ زمانه کي مسيحان کوي.
۴) من لم يأخذمن شاربه فليس منا[۱].
ژباړه :هرهغه څوک چي بريتونه نه کوچني کوی زموږ څخه
نه دي.
دابايدپه يادولروچي نبي کريم ﷺ په څه ډول ناخوښي سره
ددې اظهارکړئ دي وايي:
*گفته او گفته الله بود گرچه از حلقوم عبدالله بود*[۲]

## ږيري په اړه يو څومسئلې

[۱]- ابوداؤد.
[۲]- داولی مسئلی څخه نيولي بياترڅلورم پوري د(صفايې معاملات)څخه
اخيستل سوي دئ.

۱- مسئله : دبرېتوکوچني کول دشونډانوترسرپورې (يعني چې دشونډانوسرونه معلوميږي دشونډانوسرونه بايد په وربښتانوکې پټ نه وي ) داسنت دي، اودخريلوپه باره کې يې اختلاف دئ بعضي فقهاء هغه ته بدعت وايې اوبعضي بياهغه ته اجازه ورکړي ده ددې وجهي نه خريل يې ښه دي.

۲- مسئله: برېتونه که چيرې دواړوخواته غټ وي پروانلري پدې شرط هغه چې دشونډانوپرسردې غټ نه وي.

۳- مسئله : خريل ياکوچني کول دږيرې حرام دي ،که چيرې تريوه مټ زياته وي کوچني کول يې پروانلري ،داډول دڅلورطرفوڅخه پداسې اندازه کوچني کول چې برابراوميانه وي.

۴- مسئله : کوم وربښتان چې پرباړخوراشنه کيږي که چيرې پاک سي پروانلري داډول که چيرې وريځې تراندازې ډيرې غټې سي کولای سې چې لږيې کوچني کړي.

۵- مسئله : د ږيرې خريل يا کوچني کول چې تر يو مټ لږوي داغه رقم غځول د بريتو، څه رقم چې نن ورځ د ځوانانو په منځ کې رواج لري چې يو رقم ښايست د وي ځني حاصلوی دا حرام دي[1].

لکه څنګه چې شيخ ابن الهمام په (فتح القدير) کي فرمايلي دي : کوچني کول د ږيرې چې تر يوه مټ کوچني وي لکه څنګه چې بعضي غربيان او مخنثان (نر ښو ځکی) يې کوی ، دې کار ته هيڅاهم مباح ندي ويلي .يعنی ټوله فقهاء دامت پردې مسئله اتفاق لري چې دغه اجماع هم يو مستقل دليل دي دپاره دوجوب .

۶- مسئله :په فتاوی عالمګيري کي راغلي دي: سوررنګ د ږيری د رنګولو لپاره سنت دي دادمسلمانانو د خويونه څخه دئ .په فتاوی شامی کي راغلي دي : ببله دجنګ دموقع څخه دوربښتانو او ږيری رنګول مستحب دي پدې شرط چې مشکي رنګ نه وي ،که چيری مجاهد

[1]- اصلاح الرسوم

ددشمنانوپه زړوکي درعب دپیداکولوپه خاطراستفاده ځنی وکړي په اجماع دټولوامامانوروادي.
که چیري په نیت دخطاایستلودیوه سړي وي ،لکه څنګه چی خاوندغواړي خپلي ښځي ته اوښځه غواړي خپل خاوندته فریب ورکړئ اوخپل ځان ځوان ښکاره کړي یاکاریګرغواړي خپل سرخیل ته دوکه ورکړئ ،دغه کارپه اتفاق دټولوامامانوناروادي ،ځکه چي چم ورکول دنفاق دعلاموڅخه دي ،اوچم ورکول وه یومسلمان ته ترڅودهغه څخه فائده واخلي په اتفاق دټولوعلماء ناروادي.
یوبل دریم صورت هم لري هغه دادي چی یوازی دښایست په خاطروي ترڅومقابل لوري یې خوښ کړي په دغه صورت کي دعلماء ترمنځ اختلاف دي،اکثره فقهاءاومشایخ دا مکروه بولي خوامام ابویوسف رحمة الله علیه اونورفقهاء دغه روابولي ،په فتوی ورکولوکي

ډیراحتیاط پکاردي خوعمل پدې چې ږیره رنگول دښایست په خاطر دغیرمجاهد لپاره مکروه دي[۱].
۷- مسئله : دږیري کوچني کول چي تریوه مټ کوچنیوی حرامه ده،دغه گناه بیخي دگناه کبیرو څخه هم بده ده ،ځکه چي په دې کار کولوسره داسلام وه احکاموته سپکاوی کیږي، څوک چي په ښکاره ډول سره یوه گناه وکړي دمعافولوحق نلري دږیری دکوچني کولوگناه همیشه دده سره ملگري ده ،په وخت کي دلمانځه اود نوروعباداتوهم ورسره ملگري ده .خلاصه داده هغه څوک چي ږیره کوچني کوی یایې خریې فاسق دئ ،اوامامت دفاسق مکروه تحریمي دي.
که چیری داډول سړی په زوره امامت کوی،اویااهل دمسجددې امام مقررکړي وی،بایددلمانځه داداکولو لپاره بل مسجدته ولاړي سي،که چیری بل مسجد پیدانسي،دجماعت لمونځ دي نه پریږدي په هغه امام

[۱]- جواهرالفقه.

پسي دي لمونځ وکړي،ګناه اوعذاب يې پرمتوليانواو اوسرپرستانودهغه مسجد دي.
۸- مسئله : دسپينووريښتانوکښل په نيت دښايست دپاتی کيدومکروه دي،ليکن دمجاهدلپاره چي په نيت درعب ددشمنانوپه زړوکی واچوي پروانلري[1].

## دږيري خريل يوه بې خونده ګناه ده

دږيري خريل يوه بی خونده ګناه ده ،ځکه چي نه په وخت کي دږيري دخريلو سړي خوند احساسوي اونه وروسته ترهغه راحت احساسوی.
خوهغه کسان چي ږيره خريې کيداسي چي هغوی خونداحساسوي ،لکه څنګه چي يواردحديثوپه درس کي دحضرت مولانارشيداحمدګنګوهي(رح) په وړاندي بيان وسوچي جنتيان بی ږيري ځوانان دي،پدې وخت کي يوه شاګردسوال وکړي چي ښايست دنارينه په ږيري کي دي نوبياولي جنتيان ږيري نلري ؟

[1]-صفايې معاملات.

حضرت مولانارشیداحمدگنگوهي په جواب کي ورته
وویل: خوندیږي دهغوڅخه وپوښته چي ږیره خریږي.

## دږيږي پريښول يوه علامه داسلام ده

ږیره یوه علامه ده داسلام دعلاموڅخه ده ،یعني په
درلودلوسره دږیري،سنتي،عقیقي اوداذان څخه یوسړي
په اسلام سره خاصیږي.
یوه فرهنګي سړي خپله خاطره بیانول چي:
دمسلمانانواوهندوانودجنګ په وخت کي په یوه ریل
ګاډي کي سپوروم مسلمانانوغوښتل چي ماووژني ځکه
چي ظاهره خیره مي دعیسایانووه ،دشرمه څخه اوبه سوم
اخرناچاره سوم خپل پتلون مي وکښي اوخپله سنتي مي
ورښکاره کړه اوهغوي پرېښودم ،وروسته ترهغه مي
توبه وکښل او ږیره مي پرېښول.

يومزدوراويوسرخيل دمنشي علي اکبر چي دحضرت مولاناتهانوي ورور دي دهغه کورته راغلل مزدورمسلمان وواوهغه سرخيل يې هندووو ،دکوربه دکورڅخه يې پان راوړل دکورخادم دافکروکړي چي دامزدورهندو دي داپان يې دده خواته کښېښنوي مزدورچي ږيره نه درلوده دل پرهغه يې دعيسايې گمان وکړي ،هغه بيخي وشرميدي اومولاناعلي اکبرهم هغه وترټي.

خلاصه داده چي ږيره يوه روښانه علامه دمسلماني ده ،نن ورځ دغه درسمونه اورواجونه مرحلی ورځ په ورځ مخ په وړاندي ځي.

مخکي تردي يوه داسي زمانه وه چي دسړی مرتبه دبربېتوسره تړلي وه ،هرڅونه چي به يې بربېتونه غټ وه هغونه به يې مرتبه ترهغه غټه بللی کيده ،خونن ورځ دږيري اوبربېتوخريل دهغه ځای نيولي دئ ،په ننی زمانه کي ږيره نه درلودل دنراوښځي علاج مشکل کړي دي.

په هرحال دنردمخ ښايست په ږيره کي دي ،سړي په ږيري سره ښه معلوميږي هررقم رنګ چي يې وي.

رسول اکرم ﷺ دمسلمانانو دږيري خريلوڅخه څونه په ازاريږي ؟کولای سي چي دغه مسئله دميرزاقتيل دخاطرې څخه يې اندازه کړي.

ميرزاقتيل يوازادخياله شاعر وو،يوه ايراني سړي دده شعرونه ويلي وه ده دافکر کاوه چي دابه يوښه سړي وي ،دايران څخه يې دسفرسامان وتړي ترڅوده دغه شاعرسره ملاقات وکړي ،ډهلي ته ورسيدئ اودميرزاوه ملاقات ته ورغلي ،په دغه وخت کي ميرزاپه ږيري خريلوبوخت وو.

ايراني سړي وويل : صاحبه ږيره خريې ؟

ميرزاقتيل په جواب کي ورته وويل : هوږيره خريم دچازړه خونه خريم ،نن ورځ ډيرخلګ پدې باوردي اووايي :

*مباش درپي ازاروهرچه خواهي کن*
*که درشريعت ماغيرازاين گناه نيست*

دغه ايراني ژر په جواب کي ورته وويل : هودرسول الله ﷺ زړه خريې ،ځکه چي په حديث شريف کي راغلي دي :چي

په هراووني کي ددوشنبی او پنجشنبی په ورځو کي دامت ټوله عملونه دحضوراکرم ﷺ وه مخه ته وړاندي کيږي ،نبي کريم ﷺ چي کله دخپل امت بدعملونه ويني ډيرغمجن اوپريشانه کيږي ،ځکه چي دنبي کريم ﷺ هيله داده چي دده دامت هيڅ يوفرد دي ددوږخ دعذاب مستحق ونه گرځي.

ميرزاچي کله دايرانۍ دغه جواب واوريدئ گوياچي سترگي يې خلاصي سوي په يوه فکرکي ولاړي وروسته يې وويل:

*جزاک الله که چشمم بازکردی*
*مراباجان جان همرازکردی.*

## بهانې

ډيردارمان ځای دي چي ډيرخلگ پدې خاطرږيره خريې چي زموږعمرډيرمعلوم نسي.

ډيرعمردخدای نعمت دي ،پټول دهغه ناشکري ده.

بعضي خلګ بیاووایې چي موږ په اخرکي دعمرږیره پریږدو ،ایادوی پوهیږي چی دوي به ترعمرترپای ژوندي وي،انسان باید دخپل ژوند پریوه ګړي باندي هم باورونلري ،کیداسي دغه ساه دده اخري ساه وی.
بعضی خلګ بیاپدې وجه ږیره نه پریږدي چی بیاخلګ پرموږ مسخري کوي.

مسلماني صفت د﴿لَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ﴿٥٤﴾﴾ دي یعني مسلمان دملامتي اودمسخروخه پروانلري ،نبایدچي پدې بهانه ږیره وخریاست ،ځکه چي دغه کاردځینوبې عقلومسیحانواویادیوخوپه نامه مسلمانانوپه فکرښه اوښایست دي ،خوهغه ذات ﷺ چي دهغه سره اصلي اړیکي دي هغه داږیره خوښوي.

*دلارامی که دل دروبند*
*دگرچشم ازهم عالم فروبند*[1]

---

[1]. ملت ابراهیم.

که چیري ږیره پریښول دځوجاهلان په نزد دشرم سبب وي ،نومسلماني هم دډیروپه نزددشرم سبب ده ،نوایاداسلام څخه هم باید تیرسو ؟!

یوه سړي وه حضرت تهانوي رحمة الله علیه ته په خط کي ولیکل چي که چیري مسلمان حاکم دعیسایانوجامه وانه غوندي دهغه دبدبه له منځ ځی ،خلګ وایې دیوه مسجدملادي ،حضرت تهانوي (رح) په جواب کي ورته وویل :دیوه داسي هوښیارسړی څخه ستاپه شان ډیره عجب ده چي داډول فکرکوي ،اولاًدغه محضي یوفکردیچي خلاف دتجربی اولیدني دي یعني نه په تجربه سره داثابته ده اونه په لیدني سره داثابته ده .

لیکن په اسلامي جامه سره دده عزت اورعب ښکاره کیږي ،ځکه چي دغه دبدبه اوعزت ددین اودینداري نتیجه ده ،په خاص ډول بیاهغه وخت چي دیوه غټ امتیازسره وي ، دهغه صفت پرژبواوعظمت دهغه په زړوکی وی ځکه چي مخکي ددغه دبدبې اوهیبت سره

وحشت ملګري وواوس ددغه دبدبی سره محبت اومینه ملګری ده، په یوه حدیث شریف کي راغلي دي:
(من هاب الله هابه کل شئ).
ددې څخه ماسیواکه بل ځای وی چي عام خلګ ږیره خریې یاکفري جامي اغوندي تردې اندازی چي وه عیسایتوب ته نژدي کیږي ایادونه ډیرازاد واوسي.

## ږیره پریښول اتباع دسنت ده

الله ﷻ خپل رسول الله ﷺ ته اسوة حسنة (یعني ښه اخلاق ورکړي دي)اودانسانانو لپاره یې نمونه یاعلامه ګرځولي ده. ﴿ لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ ﴿٢١﴾ ﴾
دا دي که چیري یوسنت پریښودل سي پوره علامه نه بلل کیږي. الله ﷻ دخپل رسول الله ﷺ هرسنت خوښوي خو

دنن ورځي مسلمانان دغربيانو شکلونه اوڅيري خوښوي دا يو کفري شعوراوکفري فکر اويوبيکاره عمل دي.

## دږيري په نه پريښولو کي جسمي تاوانونه

ديوناني طب متخصصانو مخکي ويلي وه چي ږيره دنرانو لپاره ښايست دغاړي اوسيني ساتونکي ده، دااوسني بيولوژيکي متخصصان هم دې نتيجه ته رسيدلي دي.

يوډاکټر ووايې: هميشه ږيره خريل دسترگوداعصابو اودديد دکمزوروالي سبب گرځي.

يوبل ډاکټربياوايې: غټه ږيره ميکروبونه دحلق اوسيني څخه ساتي.

يوبل څيړنه دې ځاى ته رسيدل ده وايې: که چيرې تراوونسلو پوري ديوي کورنى ټوله خلگ ږيره وخريې ددوى اتم نسل به گرسره ږيره هم نلري علت ددى دا دي چي ماده منويه دنرانو لږ لږ کميږي ترڅو چي په مکمله توگه له منځه ولاړسي.

ډاکټر هومر وايې : ږيره خريل دمخ بدرنگي ،موډرنيزم اودښځوعادت دي.

دغه څېړنه پدې باورلري چي آزادي ،مېړانه ، حوصله لرل،همت اوهغه ټول دنرانو خويونه لکه دږيرې ښايست اوهغه مرضونه لکه دپزې ريزش اوداسي نور دږيرې دخريلو سره ارتباط لري[1].

حضرت حکيم الامت مولانااشرف علي تهانوي (رح) فرمايې : هرکله چي دږيري دخريلوگناه ثابته سوه نوهغه څوک چي هغه ږيره خريل خوښوي اودږيري غټو ل عيب بولي اوږيره خريل ښه بولي ددغه ټولو سره دايمان ساتنه ډيره سخته ده پرداډول خلگولازمه ده چي دداډول بد حرکتو څخه توبه وکاږي اوايمان اونکاح نوی کړي اوخپل څيره دالله ﷻ اودرسول الله ﷺ داحکامو سره سم کړي[2].

---

[1]. حيثت طبي ريش : مولانا محمد عاشق الهي ميرټهې.
[2]. اصلاح الرسوم.

بیاوایې: دږیري خریل خلګ ښایست بولي پداسي حال کي چي دغه زینت نه بلکه بدصورتې ده که چیرې زینت هم وي بیا نوڅه وجه ده چي هغه حلال وبلل سي، په حرام بللوکي ددغه زینت څه مشکل سته؟

فرق دادي چي هغه څوک دغه حلال بولي اوپه هغه مرتکب کیږي(ږیره خریې) نوله منځه ځې اوهغه سړي چي هغه حرام بولي اوپه هغه مرتکب کیږي( ږیره نه خریې) دین یې هیرلږ له منځه ځې[1]

ددې وجهې هغه کسان چي ږیره خریې که چیرې هغه اوس دستې ږیره نسې پریښولای خودونه دي وکړي چي پسخند په ونه وهي ځکه چي ثابته سوه چي شرعې څیره عیب بلل اوهغه خواربلل کفردي[2] ځکه چي اطاعت درسول الله ﷺ عین اطاعت دخدای دي:

﴿ مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ ۖ ﴿٨٠﴾ ﴾

---

[1]- اسباب الفضائل

[2]- حیات المسلمین.

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾ ﴾

ژباړه: قسم دئ وی ستا په خدای سره چي دوی نه مؤمنان کیږي ترڅو چي تا په خپلو اختلافاتو کي رانه ولي وروسته دوی باید په زړو کي ستا د قضاوت په اړه شک ونه لري او په پوره ډول سره باید تسلیم سي، یعني په وخت کي یوه شرعي کار دکولو که چیري په زړه کي تنګي احساس کړي نو دغه کفر دي.

شیخ دایان فرمایي: یوصالح سړي وفات سوهغه یې ښخ کړي یوه زمانه وروسته سیل راغلي ددئ صالح سړی مریدانو وغوښتل چي دده جسم ددغه ځای څخه یوسي وروسته ترقبر پلټلو ویې لیدل چي یوه ځوانه ښځه پرته ده چه حاضرینو کي یوه وپیژندله چي دفلانکي کلي دمسیحانو ښځه ده چي په پټه یې ایمان راوړي وو.

وروسته مړه سوي وه دعیسایانو هدیري ته ولاړل دهغې ښځې قبرېې وپلټي هغه صالح سړي پکښې پروت وو، دوارثانو څخه یې پوښتنه وکړه هغوی ورته وویل دغه صالح سړي دجنابت دغسل په مسئله کي یوبدنظردرلو دئ اوپه دغه موضوع کي یې دعیسایانومذهب چي دجنابت څخه غسل نسته ښه بللي وو، دغه اثر دهغه د باطل خیال وو.

.لوستونکي بایدددغه واقعي څخه عبرت واخلي چي په یوه فرعي مسئله کي سره ددئ چي دجنابت غسل یې هم کوي یوقسم تنگي یې په زړه کي احساسول ددغه رقم پایلي سره به مخامخ کیږي دمسلمانانودهدیري څخه دعیسایانووه هدیري ته انتقالیږي.

*غورسی فغان میری*

*درس عبرت می داستان میری*

ځیني کسان پدې وجه ډیره نه پریږدي اوپرهغه مسخري کوي چي موږ پوره دینداره نه یو.

اخرپدې مسئله کې ږیره څه کوتاه والي لري چې هغه بایدوخریل سي تاسومطمئنه اوسي چې درېږي خاوندغل اوبیکاره سړي نه وي لیکن غل اوبیکاره سړي ږیره پرېږدئ چې دهغه په واسطه دخلگوداعتمادوړسي .

لکه څنگه چې شیخ التفسیر مولانااحمدعلي لاهوري فرمایې : لمونځ کوونکي نه غل کیږي لیکن غل دلمونځ کوونکي په رقم مسجدته راځې ترڅودخلگو څخه مال غلاکړي .

أیاهغه خلگ چې ږیره خریې کولاسي چې دغه ادعاوکړي چې دوی دبشري کوتاهیانوڅخه لیري دي ؟!

که چیري نه وي په رښتیاسره ندي نوبیاولي درېږي پرخاوندانومسخري کوي ؟

هغوي باید وستایل سي ځکه په مقابل کي درېږي خریلویوښه عمل زیات لري اوخپل څیره یې په ږیره ښایسته کړي ده .

درېږي خاوندان باید دعوامو خلگو دمسخروڅخه خفه اوبیزاره نسي اوپدې وجه سره ږیره پرېښول پرېږدي

هغوی ته باید داسې جواب ورکړي چې دعبرت وړوي که څه هم تر‌وله دنیاستاسومخالفین سي اوتاسو په هرګړي اوپه هرځای کې ماته وخوری ، زموږ ارزوده چې د الله ﷻ ددین په وسیله زموږنوم ښه سي که څه هم پدغه دنیاکې دخلګومخ ته موږ بدنامه سو.

دنبي کريم ﷺ دسنتوپه پیروی کې دخلګو مسخری دهغوی خوشحالی اورضایت هیڅ معنی نلري.

بیاهم زموږ خواهش دږيري دخاوندانوڅخه دادي چې دږيري په درلودلوسره خپل ځان داصلاح کولوڅخه غافل نسي اودږيري حق هم پرځای کړي نباید داسې کاروکړي چې دعوامولپاره یوانتقادسي.

په حقیقت کې دږيري خاوندان هم پوره دینداري نلري، بعضي کسان په ږيري خریلومرتکب وی اوبعضي کسان په شهوت پرستي سره مرتکب وي نو یوازي ږيره څه فائده لري؟

## په قران کريم کي د ږيرې حکم

بعضي خلګ وايې په قرآن کي د ږيري حکم نسته که چيري په قرآن ثابته سي موږ ږيره پرېږدو.
حضرت حکيم الامت اشرف علي تهانوي په دغه باره کي فرمايلی دئ دشريعت اصول يادلائل څلوردي : قرآن ،حديث،اجماع اوفقه که چيري په يوه کي ددغه څلورو څخه يوحکم ښکاره سوګواکي په ټولوکي ښکاره سوهرکله چي د ږيري حکم دحديث څخه ثابت سودقرآن څخه هم ثابت سوی دي :

﴿من يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ ﴿٨٠﴾﴾

يو سړي دامام احمد رحمة الله عليه څخه په قرآن کريم کي د ږيري دحکم پوښتنه وکړل ،امام احمدرحمة الله عليه ورته وويل :فکربه وکړم وروسته به جواب درکړم ،اوله ورځ يې لس سيپارى دقرآن څخه تلاوت کړي په دوهم

ورځ يې هم لس سيپارى په دريم ورځ دغه ايت ته
راورسيدي

:﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ﴿٧﴾

يعني څه چي دخداى رسول ﷺ تاسوته درکړئ دي هغه
قبول کړي اودهغه څخه چي منع کړي ياست منع وکړي.
هغه سړى ته يې وفرمايل : په دغه ايت کي درېيري حکم
راغلي دي .ددې وجهي موږ ته امر سوي دي ترڅوپردغه
سنت پاته سو.

وما علينا الا البلاغ المبين

Download from:aghalibrary.cm

په اسلام کي

# زیري

حکم

تألیف:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی

ژبارن:

قاري شبیر احمد

حسن کتب خانه او قرطاسیه
ارگ بازار کندهار افغانستان
0700374524

www.Taleemulislam-Radio.com